مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۱۰/۲۵

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو شپږ شپېتمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لودویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

* **قلعه شهر**: ۳۳ – ۳۵، ۳۴ – ۶۵ (ن): دا په دریای اولیاء کي چې مخ پر سرپل بهیږي، د خوال د سویل لویدیځ په ۱۵ مایلی کي یو کلی دی. همدا شان وګوری: قلعـهٔ شهر
* **قـل بولاق**: ۱۳ – ۳۶، ۵ – ۶۵ (ن): دا د قره قل د شمال ختیځ په ۵ مایلی کي یو کلی دی.
کلدار: ۱۲- ۳۷ ، ۴۰ – ۶۷ (ن): دا د سمنګان په ولایت کي یوه علاقه داري او یو کلی دی چې ۷۶۴ کیلومتر مربع مساحت او د افغان سرچینو د بیلابیلو اټکلونو له مخي له ۴۳۹۴ تر ۸۶۲۰ تنو پوري وګړي لري. د دې علاقه داری کرښې: لویدیځ – نهر شاهي او شورتپه، شمال او ختیځ کي شوروي اتحاد او سویل کي ئـې د خلم ولسوالی ده. کلدار ۷ کلي لري چې ۴ کلي ئـې له ۵۰۰ ډیر استوګن وګړي لري. لنډ مهاله مجله د دې کلیو نومونه داسې ښیي:

توزلاق	جوی جدید	قرم توغي	کهنه کلدار
تزراق	بوز اریغ	سِه دریق	

دا علاقه داري په ۱۹۱۴ز کال کي په لاندي ډول شرحه سوي ده:
لوی کلدار د اکسوس له دریو ولسوالیو څخه یوه نوي جوړه سوي او نوي په وګړو میشته سوي ولسوالي ده چې د «پته کسَر[1]» او خشت تپي تر منځ په نیمایي لاري کي واقع ده. د دې سیمي ګاونډ کي پریمانه مخ خلاصي ځمکه سته چې تقریباً له ځنګل څخه پاکه ده یعني ځنګل نـهٔ لري او یوازې په پسرلي کي په لنډو لنډو بوټو پوښلي وي. ښي لاس ته ئـې که څوک سیند لور ته وګوري، یو جوی (یوه ویالـهٔ) ده چې خاورینې غاړې نـهٔ لري. دا ویالـهٔ شمال ختیځ لور ته پر مخ ځي او د پاکو رنو اوبو پریمانه اندازه لري. سیند ورڅخه د یوهٔ ټیټ ځنګل او نیزارونو ورهاخوا یو نیم مایل لیرې واقع دی. دا ویالـهٔ د ټیټو غرونو په بیخ کي چې ښی غاړې ته ئـې دې بهیږي او وروسته له دې چې د کایکي د غرنی لړی چاپیره دوره ئـې ووهله دلته ئـې او د اوبو د بهیدو بهیر تقریباً له سویل – سویل ختیځ لوري د شمال – شمال لویدیځ پر لور دی. د چول د شګو لوړ غرونه د کمپ د سویل لویدیځ په نیږدې یو یا دوه وو مایلو کي دی. د

[1] - Pata Kesar

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

دښتي ټولټال ارتوالی په دې ډول ۳ او څلور مایله دي. له (ایرَ تان) «حیرتان – ژ» ټوله لاره تر دې ټکي پورې سویل لور کې دښتي کې لوړ د شګو غرونه دي او ویل سوي دي چې ان د آس سپرو لپاره تقریباً ناشوني ده چې ورڅخه تیر سي. میتلند چې د ۱۸۸۶ ز کال د جولای په میاشت کې په کلدار کې وو وایي: -
"اکسوس اوس په بشپړ ډول سیلابي دي او د کلونو کلونو په پرتله ئـې د اوبو سطحه لوړه ده او اکسوس دلته د ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ یاردو پورې پلن دی. د نیزارونو په ژۍ کې د ځمکې سطحه د نورو ځایونو په پرتله یو لږ څه جګه ده؛ چې یوازې د نیزارونو بسترونه ئـې له بشپړې سیلاب وهنې څخه ژغوري. د اوبو د بهیدا چټکوالی زښت ډیر پیاوړی دی؛ ظاهراً لږ تر لږه ۵ مایله په ساعت کې دی. د مقابل لوري غاړه کې ټیټ غرونه دي چې مخکې مو ورڅخه یادونه وکړه. دا غرونه د کومې منفردې لړۍ نـهٔ دي، دا په حقیقت کې د یوې لوړې سطحې لږ لوړې تللې ژۍ دي چې له کایکاکې څخه د لویدیځ پر خوا غځیدلې ده. له همدې ځایه د یوهٔ مایل یا دوه وو مایلو په اوږدوالي سیند ته خپل شیب لرونکی مخ ښکاره کوي خو نورو ځایونو کې بیا په سختۍ سره لیدل کیږي ځکه چې د اوبو بهیر پریوللي دي. لاندې خوا ته، په هغـهٔ ځای کې چې ګړنګ پای ته رسیږي د سیند او د غرونو تر منځ د پام وړ لویه ځمکه واقع ده؛ دغو غرونو ته لاسرسی هم آسانه دی. دا غرونه تر ډیره لوڅ دي کټ مټ لکه د «کوهٔ تان» غرونه، چې ډیر شاړ او منزوي غرونه ښکاري. د اوبو د بهیر په منځ کې دوه تنګ او کوچني ټاپوګان دي.
" څرګنده ده چې دا غرونه د سیند پر کیڼې غاړې باندې د پام وړ تسلط وربخښي. داسې ښکاري چې د هغې غاړه ځمکه د دې غاړې په پرتلې لوړه او وچه ده. (میتلند) *په دې نامـهٔ بل کلی په سویل ختیځ کې په ۱۰ – ۳۷، ۴۶ – ۶۷ (ن) کې واقع دی.*
قلیچ: ۱۷ – ۳۵، ۵۸ – ۶۷ (ن): لوړوالی: (تقریباً) ۵۶۰۰ فیټه: دا د یوهٔ کلي او یوهٔ کوتل نوم دی؛ دا کوتل د کهمرد له درې څخه په سیغان منتهي کیږي او له سرخاب څخه تر بامیانو پورې لاره ورڅخه تیریږي. د قلعه قلیچ کلی له دو آبِ میخ زرې څخه ۲ مایله پورته دی چې ۳۰ کورونه لري، له همدې کلي څخه کوتل ته د ختلو لاره له یوې پراخې، ډبرینې نالې څخه کیږي دا ناله د مایل د ۴/۳ په اندازې اوږده ده او د ختلو لاره ئـې سخته نـهٔ ده، له دې واټن وروسته دا لاره مارپیچه کیږي او د ۲/۱ ۱ مایل لپاره د ډبرینو مهمیزونو پر لور چې ګام پر ګام لوړیږي پورته خیږي. د ختلو د سختوالي اندازه ئـې د ۱ په ۱۰ کې ده خو د ستوغوالي سختوالی ئـې چې ۱ په ۶ کې ده تر ۵۰ یاردو پورې ده او دا څو ځایه په پرله پسې ډول راځي. د نالې سر ته له رسیدلو وروسته د ختلو وروستی پړاو ۹۰۰ فیټه دی او د کوتل د سر لوړوالی د دو آبِ میخ زرې له سطحې څخه ۱۵۰۰ فیټه دی. لاره په ډیریو ځایونو کې ښه ده خو ډبرینه ده. د ختلو د لارې تر ټولو لویه ستونزه د (۲/۱ ۱) مایل واټن دی ځکه ان د ختلو د ۱ په ۱۰ سختوالي کې د یو نیم مایل لپاره په پورته ختلو کې کش کول او زور وهل ډیر دروند کار دی. د دې لپاره چې د ختلو دا لاره عملاً د کار وړ سي باید په مسلسلو فواصلو کې د لارې څنګونه په لوی ډول و کیندل سي؛ او په ډیرو ستوغو ځایونو کې دې د مارپیچو ځایونو پیچومي ډیر سي چې د ختلو سختوالی آسانه کړي. پر هغـهٔ مهمیز باندې چې دا لاره ورخیږي په خپله مهمیز پراخ ځای دی. په ۱۸۸۶ز کال کې دې ځای ته ختل سره له دې چې تر یوهٔ حده عملي وو خو د لارې د اوږدوالي د بار وړونکو څارویو د کتار لپاره ډیر سخت وو.
د کوتل له سره د سیغان درې ته د کوزیدلو اساسي لاره ۴/۱ ۱ مایله اوږده ده او د کوتل له سره سقوط ۱۱۰۰فیټه دی. د کوزیدلو دا لاره په لومړیو کې د مایل د ۴/۳ په اندازې د ختلو د ستوغوالي په پرتله ډیره شیوه او سرځوړې ده؛ خو خپله لاره ۱۰ فیټه ارته ده او پرته له هغې نوره ښه ده؛ لاره د رس له خاورې څخه ده. نوره پاتې لاره آسانه ده او د لارې ارتوالی ان تر ۳۰ فیټو پورې رسیږي، او په ګاونډیو غرنیو ډډو کې ئـې د کښت پټې هم لیدل کیږي. د کوتل له سره د مایل د ۴/۱ ۱ په اندازې دا لاره د یوهٔ ډبرین مهمیز له اړخه تیریږي چې د ختلو لوړوالی ئـې ۳۰۰ یارډه دی او بیا د ۱۰۰ یاردو په اوږدوالي د کوزیدلو لاره راځي او دلته لاره ډیره ډبرینه کیږي. ورپسې دا لاره پر یوې کوچنۍ، تنګې درې ننوځي چې اړخونه ئـې ډیر سرځوړي دي او په ځینو ځایونو کې ډبرین دي خو سختوالی ئـې ډیر نـهٔ دی بلکه آسانه دی، ورپسې له آب سغیان سره د درې د یو ځای کیدلو پر لور ورکوزیږي، د یو ځای کیدلو ټکی د باغِ ایبک په نامـهٔ د یوهٔ کوچنې کلي په کنډوالو کې دی چې د کوتل له سره تر دې ځایه ۳ مایله لیرې دی او د پشنګ د درې له خولې څخه د مایل د ۴/۳ اندازې لیرې دی، دا ځای د اوبو بهیر ډیر وران کړی دی. یوه ښه لاره چې د عرابه لرونکو ترافیکو لپاره هم مناسبه لاره ده له آبِ سیغان څخه تر سیغان پورې تللې ده.
"د قلیچ کوتل ډیره دفاعي وړتیا لري، او ان یو نسبتاً کوچنی ځواک ئـې ساتلای سي. دا په دې ټول خط الرأس کې یوازینۍ عملي لاره ده چې د سرو خاورو او د شګلن کاڼي دنګ ګړنګ وربانديې مسلط ولاړ دی، دا ګړنګ چې په دو آب کې د بامیانو د سیند په شمال لویدیځ کې دی د «نوله» په نامـهٔ یادیږي.
د آو درې (آب درې – ژ) له کوزنۍ برخې څخه او یا د کوتلِ نال فوریش له سره له دشتِ سفید څخه د ناله د ګړنګو شمال ته هم څوک لاره بدلولای سي. (د ناله ګړنګونه د «نال فچ» په نامـهٔ هم یادیږي. د دې کوتل له سره تیره سوې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لاره ظاهراً د اوښانو د تگ لپاره مناسبه ده خو ورسره باید یاده سي چې د قلیچ د کوتل د لارې په اندازې تگ راتگ ورباندې نـۀ دی سوی) دواړه لارې ډیرې سختې لارې دي او کله چې د بامیانو سیند کې اوبـۀ تر خپلې ډیرې ټیټې سطحې وي نو د آو درې لاره یوازینی عملي لاره ده. (پیکاک)

قلیچ آباد: ۵۲ ــ ۳۶، ۶ ــ ۶۶ (ن): دا د نهر مگزوم پر غاړه د آقچې د شمال لویدیځ په ۵ مایلی کې یو لوی کلی دی چې د وزبیکانو ۷۵ کورنی په کې ژوند کوي. د دې کلي گردچاپیره په دیوالونو کې محصور پټي او باغونه راتاو دي، د دیوالونو لوړوالی له ۳ تر ۵ فیټو پورې دی. (میتلند) *اوسنی نقشې دا نوم د قلیچ آباد په ډول لیکي.*

کلیم بولاق: ۲۶ ــ ۳۵، ۷ ــ ۶۷ (ج): دا د صوف د درې په سویل کې یو کلی دی چې د کوۀ کج کمر په شمالي لمن کې واقع دی او ۳۰ کورونه لري. (امیر خان)

کل قبچاق: وگورئ: پام گذر

کل تپه: ــ ۳۵، ــ ۶۵: ــ ۳۵، ــ ۶۵ : دا د سرپل د ولسوالی د گرزیوان په علاقه داری کې د جر قلعه د لویدیځ په نیږدې یو نیم مایلی کې یو کلی دی چې وزبیکان په کې اوسیږي. (اې. بې. سي.)

* **کلتر**: ۱۵ ــ ۳۶، ۱ ــ ۶۶ (ن): دا د نای میدان د لویدیځ په نیږدې ۵ مایلی کې او د سرپل په شمال ختیځ کې یو کلی دی.

* **کلته شاخ**: ۵۱ ــ ۳۶، ۷ ــ ۶۶ (ن): دا د آقچې د سویل لویدیځ په نیږدې ۸ مایلی کې د شبرغان د لارې په اوږدو کې یو کلی دی.

کلته شور: ــ ۳۶، ــ ۶۵: دا د سرپل په ولسوالی کې د کلیو یوه ټولگه یا مجموعه ده چې د حضرت امام له سویل څخه نیږدې ۱۱ مایله لیرې واقع ده. د دغو کلیو نومونه دا دي: بابه جولک، بیسود کی- رگي او سوار. په دغو کلیو کې ټولټال ۱۸۰ کورنی استوگنې دي چې ټول ئـې وزبیکان دي. (اې. بې. سي.)

کمچ: ۴۳ ــ ۳۵، ۱۷ ــ ۷۶ (ن): دا د صوف د درې په ولسوالی کې د سد مردې د شمال په ۴ مایلی کې د سیدانو دوه کوچني کلي دي. دلته د سیند په دواړو غاړو کې د کمپ وهلو لپاره ښه ځمکه سته، دلته واښـۀ او سون لرگي په کثرت تر لاسه کیږي. (امیر خان) دا کوچني کلي د علي مردان د شمال ختیځ په نیږدې ۶ مایلی کې واقع دی.

کماله کشان: ۳۳ ــ ۳۶، ۲۳ ــ ۶۷: دا د مالمول ــ پیر نکچیر د لارې په شمال کې د غرونو پر سر یو کوتل دی چې همدې لارې باندې منتهي کیږي. دا کوتل د بارورونکو یابو گانو او ان د اوښانو د تگ لپاره عملي کوتل گڼل سوی دی. کوتل ته د ختلو لاره د بابه قره د څاه گانو د لویدیځ په نیږدې ۵ مایلی کې پیل کیږي او ویل سوي دي چې کوتل ته د رسیدلو لپاره ۷ مایله مزل دی. داسې بریښي چې دا لاره دې په لومړیو کې د تگ لپاره آسانه وي. ورپسې دا لاره د یوۀ منځګړي له منځه پر یوې ستوغې لارې ورخیږي، د منځګړي ډډې د تگ لپاره عملي نـۀ دي. له منځګړي ورهاخوا په شمال کې د چشمه خاواک د اوبو چینه ده. له همدې ځایه دا لاره ظاهراً د عبدو د کوتل پر مهمیز باندې ورکوزیږي او د تاشقرغان ــ مزارشریف له سړک سره تقاطع مومي. په یقین سره ویلای سو چې د غرونو پر سر د کماله کوتل او د تاشقرغان د تنگي تر منځ بله لاره نـۀ سته او همدا احتمال موجود دی. (اې. بې. سي. له بومي معلوماتو څخه)

* **کل منگر**: ۵۷ ــ ۳۶، ۵ ــ ۶۵ (ن): دا د اندخوی د لویدیځ په نیږدې ۲ مایلی کې یو کلی دی.

کمرک: ۴۸ ــ ۳۵، ۴۳ ــ ۶۴: دا د میمني د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلی کې د دریو کوچنیو کلیو یوه ډله ده چې د وزبیکانو ۴۰۰ بې وزلې کورنی په کې استوگنې دي. دلته ډیره کرهنه نـۀ ده سوې خو دا خلک د پسونو د پام وړ شمیر رمې لري. (گریسباخ)

کهمرد: ۱۹ ــ ۳۵، ۳۵ ــ ۶۷ (ن): *دا یو کلی او یوه ولسوالي ده چې د بامیانو د ولایت په شمال ختیځ کې واقع او ۱۶۴۰ کیلومتر مربع مساحت لري چې د وگړو شمیر ئـې د بیلابیلو افغان سرچینو له مخې د ۴۰۹۰ او ۴۷۲۵ وگړو تر منځ اټکل سوی دی. د دې ولسوالی کرښې: لویدیځ:- یک اولنگ، شمال: - روی دو آب، ختیځ: - تاله و برفک، او سویل: - شیبر او د بامیانو ولسوالی دي. کهمرد ۲۳ کلي لري چې ۳ کلي ئـې له ۵۰۰ ډیر وگړي لري. لنډ مهالي مجلې د دغو کلیو نومونه په دې ډول ذکر کړي دي:*

اندراب	*باج گاه*	*پائین باغ*	*دربند و تنگي مویک*
درۀ آجر	خرگوشک	*دِه تاجیک*	*دِه میانه*

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ایلاقـهٔ آجر	*دو دَري*	*دشتِ سفید*	*دو شاخ اولنگ*
دو آبِ میخ زرین	*اشپوشته*	*دو راو*	*سرخ شار*
روی غینک و قغور	*دِه خوش حال*	*لاغکي*	*بانق*
کالوچ	*بانق*	*لولنج*	*مدار*

په کهمردو کي د لرغونو آثارو تأریخي پاتې شونې: په «درهٔ نگار» کي د لرغونو ودانیو پاتې شونې. د ودانیو دا پاتې شونې د سیمې بومي خلک د (دختر شاه) یا (شهزادگی) په نامـهٔ پیژنې، د دوی سیمه بیز روایات وایي چې دا «مهر نگار» په نامـهٔ یوه شهزاگی وه او انوشیروان لور وه؛ بله ئـې د سفید په نامـهٔ ده چې په دشتِ سفید کي د یوهٔ غرهٔ پر سر د سلهاوو کلاگانو، دیوالونو، برجونو او سمځو پاتې شونې دي.

د کهمرد مهم زیارتونه: سید شاه احمد، خواجه احمد- ی- اولیا، بابا ولي او چهلتن.

کهمرد په ۱۹۱۴ز کال کي په لاندې ډول شرحه سوی دی:

کهمرد له سیغان سره په گډه د دې ولایت یو اداري واحد جوړوي. د کهمرد درې ژروه ده او داسې ستر گړنگونه د دیوالونه ترې راتاو دي چې لاسرسی ورته ناشونی دی په ځانگړې توگه د درې شمال خواته. د دې درې سطح (۵۵۰۰ فیټه لوړه) همواره، حاصلخیزه ده او ډیره کرهنه په کي سوې ده. د کهمرد استوگن وگړي ټول تاجیکان دي او شمیر ئـې غالباً ۴۰۰ کورنۍ دی. د کهمرد سیند په عام ډول د اوبو د بهیدلو ختیځ ځغاست لوری لري او په دو آبِ میخ زرین کي د بامیان او سیغان د سیندونو له یو ځای سویو اوبو سره گډیږي، په دې توگه دا سیند په لومړیو کي د سرخآب په نامـهٔ پیژندل کیږي او ورپسې بیا د آق سرای او کندز د سیند په نومونو یادیږي.

له کهمرد تر سیغان پورې څو کوتلونه دي چې د دوی په منځ کي د دندان شکن کوتل په عام ډول کارول کیږي. لویدیځ لور ته یوه لاره ده چې په ولیشان او یک اولنگ (یا یکاولنگ) منتهي کیږي. شمال لور ته یوازینی آسانه موجوده لاره د باجگاه د تنگي او قره کوتل له لارې ده. خو د قره کوتل په ختیځ کي د نای جوشک له لارې یوه څرخیدونکي لاره ده چې مهمې متبادلې لارې ورکوي. (وگورئ: پورته)

" د کهمرد دره یوه تنگه اوږده دره ده چې له مدار څخه د یوې ستوغې غرنۍ لړۍ په وسیلې جلا سوې ده چې د همدې لړۍ له لارې د باجگاه تنگی د مدار سیند وروست کړی دی.

" دا تنگي قسماً په رسوباتو ډک سوی دی چې له منځه ئـې د کهمرد د سیند د پام وړ اوبـهٔ ختیځ لور ته بهیږي چې په پای کي د کندز سیند ته ورغورځي. داسې ښکاري چې د سیند اوبـهٔ خپل اړخونه ډیر توږي یا ئـې نـهٔ توږي خو د پسرلي ستر سیلابونه چې هر کال د واورو له ویلې کیدلو وروسته را پورته کیږي د رسوباتو پر راټولیدنې باندې نور ورزیاتوي او کرار کرار دا دره ډکوي. دښته چې په دې ډول جوړه سوې ټوله کرل سوې ده ، موږ هم غلات او هم ونې ولیدلې چې دومره پر مخ تللي حالت کي وو چې تر دې دمه مو بل چیرې نـهٔ دې لیدلې. خو له دې سره سره دا دره په غیر معمول ډول سره توده ده ځکه د لمر وړانگې د هغو لوڅو غرونو پر صیقل سویو ډډو لکه منعکس کوونکی یا پروجکتور لگیږي چې دا دره جوړوي. (گریسباخ)

د آجر له درې پورته ځایونه د افغان سرحدي تحدید کمیسیون له پلوه نـهٔ دې پلټل سوي خو له دې ځایه درې مایله پورته چې ویل کیږي د چهلتن زیارت دی او دلته او هلته یو تنگی سته، دا تنگی لنډ خو اړخونه ئـې لوړ دي. ویل سوي چې په دې تنگي کي د سیند اوبـهٔ له ډبرو څخه په یوهٔ ځل راوځي. له تنگي بلافاصله پورته دا تنگی په دوه وو څانگو ویشل کیږي. یوه څانگه ئـې له شمال لوري ده چې له هغـهٔ څخه پورته کومه پیژندل سوي لاره نـهٔ سته. بله څانگه ئـې له سویل لویدیځ لوري ده چې د جوزري په نامـهٔ یادیږي. ویل سوي چې جوزري یوه وچه تنگه دره ده او بستر ئـې هموار دی. ویل سوي چې یوه ښه لاره له دې ځایه د بندِ امیر سرخاب اوب یللونکي یا آب پخشان ته تللې ده او بیا همدا لاره په ولیشان کي کلیم بولاق ته یا په یک اولنگ کي سیاه خوال ته تللې ده.

د آجر په کلي دي تنگی ۳۰۰ یارډه ارت دی خو ورلاندې ئـې نور هم تنگ کیږي او ان د ستوني د حلق په شان نور هم تنگ کیږي چې په ډډو کي ئـې ستري لوړې ډبرې د دیوالونو په شان ولاړې دي او تر یو نیم مایل پورې همداسې تنگ دی. له دې حلقي تنگي څخه د وتلو په ختیځه خوله کي د «لورنج» سیند راځي، دا سیند له شماله راروان دی؛ د التصاق له دې ټکي څخه تر شش برجه پورې په درې کي تللې لاره ښـهٔ ده. شش برجه د سیند په ښی غاړه کي د «هفته داران[2]» د تنگي په خولـهٔ کي ده. شش برجه یوازې ۴ برجونه لري، دا شپږ برجونه نـهٔ دي یوازې نوم ئـې همداسې وربانديې ایښودلی دی. شش برجه چې لوړ دیوالونه لري د جوړښت له اړخه عادي جوړښت لري چې گرد چاپیره ئـې مخ خلاصي ټیټ پټي دي او د اوبولگولو بې شمیره ویالې په کي تیرې سوې دي چې شش برجې ته د خندق

[2] - Haftadaran glen

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

په شان ښکاري. له همدې کبله معمولاً آس سپاره له دې درې څخه د تیریدلو لپاره زړۀ نـۀ ښـۀ کوي او اجتناب ورڅخه کوي او پر ځای ئـې د قلعـۀ بادشاه کړه او له پیچومو ډکه لاره غوره ګڼي. په سرپل کې د معمارۍ یو درې قوسه پل وو خو د ۱۸۸۶ز کال غیر عادي سیلاب له ځان سره یووړ. له هغه وخته وروسته پر ځای ئـې یو بل پیاوړی لرګین پل جوړ سوی دی.
د کابل – مزار شریف سړک له شش برجي څخه د باجګاه تر کلا پورې په دې دره کې پر مخ ځي او همدلته سړک مخه شمال ته اړوي او د باجګاه د تنګي له لارې دره نوره شا ته پریږدي. د سرپل له درې کښته دره له سویل لوري د لوړو سطوحو په سترو ډبرو چې پر درې مسلط دي تنګه کیږي. ورپسې کرار کرار لوییږي او ارتوالی ئـې تر ۶۰۰ یاردو رسیږي او د ډبرو سترې کواړې چې تر درې راتاو دي د چا نظر ته دا دره لا نوره تنګه ښکاره کوي.
په پوزک بیني کبود کې چې له سرپل څخه ۵ مایله کښته ده یو غرنی مهمیز د شمال له لوړو پر درې باندې سپور دی. دلته له سیند څخه پورې غاړه اوښتل شوني دي او د سویل لوري له ستوغو ډډو څخه یوه لاره دشتِ ګزک ته د چهار زنګي د کوتل له لارې ختلې ده.
په ۲/۱ ۹مایلو کې د باجګاه د کلا وراني ویجاړې راځي، دا کنډواله کلا د هغه تنګي خولې ته نیږدې واقع ده چې شمال لور ته په قره کوتل منتهي کیږي. له سرپل څخه سقوط ۲۴۵ فیټه دی. له همدې ځایه دو آبِ میخ زرین ته دوې لارې تللې دي؛ خو اساسي یا عمومي لاره د سیند په کینې غاړې کې له دشتِ سفید څڅخه ۲/۱ ۱ مایله کښته پر مخ ځي او بیا د یوۀ پله له لارې ښی غاړې ته تاوییږي او یوه بله لاره ورڅخه کین لور ته جلا کیږي، دا لاره د نای جوشک د کوتل له لارې له دره «ایسپي نو» څخه تر دو آبِ شاه پسند پورې تللې ده.
د باجګاه د تنګي له خولې څخه په ۲/۱ ۶ مایل کې تاسو له دشت سفید څخه تیر سوي یاست؛ د دغو دواړو ځایونو ترمنځ دره په اوسط ډول ۳۰۰ یارده ارتوالی لري. کښته بیا دره نسبتاً تنګه کیږي او له سینده پورې غاړه اوښتل ناشوني دي ځکه چې له ۵ فیټو ډیرې اوبـۀ لري او د سیند غاړې هم ډیرې ستوغې دي. په قلعـۀ قلیچ کې یو لرګین پل دی چې اوښان ورڅخه تیریدلای سي او له پله څخه په تیریدلو دا لاره یو ځل بیا د سیند په کینې غاړې کې پر مخ تللې ده.
دو آبِ میخ زرې له دشتِ سفید څخه ۶ مایله واټن لري. (میتلند، پیکاک، تالبوت، ګریسباخ.) لاندني معلومات د ۱۸۸۲ز کال د ګزیتر له مخې اخیستل سوي دي:
"پر افغانستان باندې د برتانیې د لښکرې یون پر مهال دا دره په ۱۸۴۰ز کال کې د یوې کوچنۍ خو زړورې ماجرا شاهده وه. د باجګاه کلا د «هي د لیوا[3]» پینځو قطعو نیولې وه خو د سیمې د استوګنو د بغاوت د روحیې د ښودلو او د دوی د راټولیدلو له کبله مناسبه وګڼل سوه چې دې پوستې ته د سیغان له ځواک څخه د ملاتړ لپاره یوه بله قطعه هم راولیږل سي. له دې سره سم بریدګی (دګلس) له دوه وو قطعاتو سره کمرد (سرپل) ته د ملاتړې ځواک په توګه لاړ. بریدګي دګلس په کمرد کې دا قطعات ونـۀ موندل نو بیرته باجګاه ته ئـې د راستیندلو مارش پیل کړ، خو د آجر د درې مشران په پټه دې ته چمتوالی نیولی وو چې پر بریدګي دګلس برید وکړي، دګلس لا پر خپله لاره روان وو او د کوم خطر ویره او یا شک ئـې په زړۀ کې نـۀ وو چې یو ناڅاپه له هر لوري وربانديې د کلا له دیوالونو او د ګاونډ له باغونو د فیتله یې توپکو ډزې پیل سوې.
دوی په چټکۍ سره د بریدګرو پر وړاندې ځان مدافعې ته چمتو کړ، دوی ښه کار وکړ چې مدافعې ته ئـې ځانونه چمتو کړل ځکه د وزبیک آس سپرو یوه ډله راښکاره سوه او په دې کوچنۍ قطعې یې برید وکړ خو قطعه ټینګه ودریدله او د وزبیک بریدګرو برید ئـې په شا وتمباوۀ. خو د آجري پلې جنګیالیو برید په ټینګې دوام درلود او موقعیت ئـې د سپرو په شان نـۀ وو، دا جنګیالي په داسې یوۀ موقعیت کې ځای پر ځای ول چې هم له ونو، هم له دیوالونو تقریباً له هرې خوا هم د موقعیت له اړخه او هم په سترګو د لیدلو له اړخه پر دې قطعې باندې مسلط ول او د شا له لورې ئـې هم پوښښ نـۀ درلود او د جنګیالیو جزائیلي توپکو مرګوني صحنه جوړه کړې وه. په دې حال کې دګلس زړۀ نا زړۀ اړ سو چې خپل سرتیري له کلا څخه وباسي.
" دې کوچنۍ قطعې، ګام پر ګام، انچ په انچ په ټینګوالي او بې ساري زړورتیا او جسارت سره وکولای سول د ګڼو بڼونو له منځه او د باغونو د دښتو له لارې په داسې حال کې شا تګ وکړي چې ځانونه ئـې د پټ دښمن د ځورونکي اور په معرض کې واقع ول؛ خود بریدګي سترګې پر خپل میرځمن کله ناکله او هر هغه مهال چې ورته شوني وو لګیدلې او ځوابیه اور ئـې دښمن باندې کاوۀ. دا مقابله یوه نابرابره مقابله وه؛ آجریانو هم د خپل موقعیت له اړخه برلاسي درلوده او هم ئـې له خپلې سیمې سره ښه بلدتیا درلوده او هم د خپلو جنګیالیو له اړخه ډیر ول. د دې ترڅنګ دوی د آس سپرو یوه ډله هم درلودله، سره له دې چې دغو آس سپرو د بیا ځلې برید تکل ونـۀ وکړ خو بیاهم د شمیر له اړخه د میرځمن په برلاسۍ کې راتلل خو د هغوی د روحیې د پیاوړتیا لپاره مساعد ول؛ سپارۀ به په تکرار ډول د

[3] - Hay's regiment

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

خپلو جنګیالیو شاته راغلل او بیا به ئـې په تراټ مساعد موقعیت ته بوتلل او له هغه ځایه به ئـې د په شا کیدونکي ځواک لپاره له خطره ډک مزاحمتونه جوړول.
په دې توګې جګړې تر څو مایلو پورې دوام وکړ؛ زموږ سرتیري په چټکۍ سره د آجریانو تر اور لاندې پر ځمکه پریوتل؛ د ټیپانو مرسته به د هغوی ملګرو کوله خو مړي به هماغلته ځای پر ځای پریښودل کیدل، خو بریدګي له احتیاط څخه په کار اخیستلو د مړیو وسلې او مهمات اخیستل؛ پر دې سربیره معیوب سوي سرتیري هم د دوی پر اوږو ول؛ او د دې لپاره چې د قطعې بقایا یا هغه شیان چې ورڅخه پاتې کیږي د دوی پر اوږو دروند بار نـۀ سي او په عین وخت کې د دې په پام کې لرلو سره چې دا وسایل او شیان د دښمن لاس ته ونـۀ لویږي نو ډیري توپک ژور سیند ته چې د لارې په اوږدو کې بهیدۀ وغورځول سول. د قطعې مخې ته لا ډیره لار پرته وه، او تقریباً تمام عیاره هلاکت ورته حتمي الوقوع وو، د دوی شمیر لا وختې ډیر ټیټ سوی وو او مهمات ئـې هم مخ په خلاصیدو وو خو له نیکه مرغه چې ملاتړ او مرسته ورته ورسیده. د دې پیښې افسوسناک خبر لا مخکې باجګاه ته رسیدلی وو او له نیکه مرغه چې په همدې وخت کې تورن ستورت له خلم څخه نوی راستون سوی وو. دغه افسر تورن هې ته خپل خدمات داوطلبانه ارائـه کړل او په بیړه له دوه وو قطعاتو سره د بریدګي د مرستې لپاره ولیږل سو، په دې سره تاسو د دې کوچنۍ ډلې خوښۍ احساس کولای سئ، په داسې یوۀ حالت کې چې په سختو شیبو کې د نا امیدۍ شیبې وې دوی ولیدل چې د دوی پر لور یوه ډله را روانه ده او له جامو ئـې ښکاریدل چې د دوی ملګرې ډله ده. د دې په لیدلو سره «عفاریان[4]» چې تر دې دمه بریمن او برلاسي ښکاریدل مخه تاو کړه او په چټکۍ سره د کهمرد پر لور وتښتیدل او دواړه برتانوي ډلې سره یوځای سوې چې اوس برتانوي مورچل راستانـۀ سوې او چا ورته مزاحمت نـۀ دی کړی. "
میتلند پورتنۍ شرحې ته په کتلو وایي: - " هغـۀ دښمن چې دلته د "آجریانو" په نامـۀ یادیږي داسې یاد سوي دي چې ګڼې دوی دې په رښتیا سره په همدغـۀ نامـۀ خلک وي. حال دا چې دوی تاجیکان ول او زه یوازې دا تصور او ګومان کولای سم چې پر دې هیواد باندې زموږ د تسلط ضعف د دې لامل سو چې په سیمې کې نارضایتي راوپاریږي او خلک په آجر کې سره راټول او په پای کې خپل ګوزار وکړي. (وګورئ: سیغان د وګړو، تولیداتو او نورو معلوماتو لپاره)
کمر زرد: کمر زد: وګورئ: خواجه کمر شیږم ټوک
* **قمشلي:** ۲۶ ــ ۳۶، ۳۳ ــ ۶۶ (ن): دا د چادر تپې د لویدیځ په تقریباً ۱ مایلۍ کې یو کوچنۍ کلی دی.
کمپیرک: ۵۰ ــ ۳۶، ۱ ــ ۶۷ (ن): دا د مزارشریف د شمال په ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی چې د نهرِ مشتاق پر غاړې واقع او د غلزې ابراهیم خیلو ۱۲۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (اې. بي. سي.)
خانقاه: وګورئ: خانقا
* **کندلي**: ۷ ــ ۳۶، ۴۱ ــ ۶۶ (ن): دا د آق کپروک د لویدیځ ــ شمال لویدیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی. همدا شان په دې نامـۀ یو تنګی هم دی چې ۲ مایله ختیځ ته لیرې واقع او ګله قدق د تنګې پر لور ځغلي.
* **کنګرې**: ۱۸ ــ ۳۶، ۴۶ ــ ۶۶ (ن): دا د بوینقرې د لویدیځ ــ سویل لویدیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی. همدا شان دلته سویل لویدیځ لور ته ۳ مایله وړاندې په همدغـۀ نامـۀ د کوچیانو یو کمپ هم سته.
* **قنجغ علي:** ۳ ــ ۳۶، ۳۹ ــ ۶۴ (ن): دا د میمنې د سیند پر غاړه د اور تپې د سویل په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.
کنجوغه: ۴۳ ــ ۳۶، ۴۹ ــ ۶۵ (ج): دا د شبرغان د شمال ختیځ په ۵ مایلۍ کې یو کلی دی. دا کلی هماغه خپله معمولي بڼه لري چې احاطوي دیوالونه لري او تر ډیرې ځمکې راتاو دي. د آقچې لاره د دې ځای په سویلي انتها کې د نیم مایل د واټن لپاره تیریږي. له دې ځایه د اوبولګولو څو ویالې سته او یو کوچنۍ پل هم د ویالو پر سر سته، له کلي څخه په تیریدلو د لارې په کیڼ لاس کې یوه ژوره ویاله سته. (میتلند)
کنجوغه: ــ ۳۶، ـ ۶۵: دا د تاشقرغان د سیند په ښۍ غاړه کې په ایبک کې یو کلی دی چې د کته علي وزبیکانو ۷۰ کورنۍ په کې اوسیږي. (اې. بي . سي.)
* **کان کوي**: ۱ ــ ۳۷ ، ۲۳ ــ ۶۵ (ن): دا د چارباغ د ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **کنلي چارباغ**: ۱ ــ ۳۷، ۱۷ ــ ۶۵ (ن): دا د چارباغ د شمال ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.
کولیان: ۵۳ ــ ۳۵، ۲۴ ــ ۶۵ (ن): لوړوالی: ۴۸۳۹ فیټه. دا د بلچراغ د ختیځ ــ شمال ختیځ په ۱۱ مایلۍ کې د وزبیکانو یو لوی کلی دی چې ۱۰۰ کورونه لري، دا کلی په خپل ټیټ اړخ کې یوه کوچنۍ کلا هم لري. دا کلی د قرچې د درې په شمالي اړخ کې واقع دی؛ سویل لور ته ئـې د لکان تګاو خولـۀ ده، دا یود پام وړ تنګی دی چې مخ پر

[4] - Afars : عفر یا عفار د افریقا یو قوم دی چې ډیر وروسته پاتې او بې وزلې خلک دي او له تمدن او مدنیت لیرې خلک دي. د استعماري هیوادونو ادبیات همداسې دي. هم د خلکو په هیواد او حریم برید کوي او هم یې آزادي خوښوونکي ولسونه وروسته پاتې او نامتمدنه بولي. - ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سویل ختیځ د غرونو د باندنۍ لړۍ شاته تللی دی. د لکان له سره یوه لاره د فاوغان تنګي ته تللي ده خو ډیره بده لاره ده ان د یابوګانو لپاره سخته ده. واټن تقریباً ۳۰ مایله. (میتلند)
کوسه قلعه: کاوسه قلعه: ۳ – ۳۶، ۵۱ – ۶۴ (ن): دا د میمنې د ولسوالۍ د شیرین تګاو په علاقه داری کې یو کلی دی چې د جنقره وزبیکانو ۵۰ کورونه په کې ودان دي. (ای. بي. سي.) *اوسنۍ نقشې دا نوم د کوسه قلعه په ډول ښیي. دا کلی د میمنې د شمال په ۱۵ مایلۍ کې واقع دی.*
* **کپه دار**: ۲۴ – ۳۶، ۳۶ – ۶۵ (ن): دا په یوۀ تنګي کې یو کلی دی، دا تنګی سید آباد ته نیږدې د ګله جر د لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې واقع دی چې پر دریای سفید ننوځي.
قره: دا د ارسرسي تورکمنانو یوه ځانګه ده چې د شور تپې په ولسوالۍ کې اوسیږي او په ۱۸۸۶ز کال کې ئې شمیر ۸۰۰ کورنیو ته رسیدۀ. (میتلند)
قره: دا د قبچاقانو یوه قومي ځانګه ده.
* **قره ادیر**: ۴ – ۳۷ ، ۵۷ – ۶۵ (ن): دا د قلي د شمال لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې یو کلی دی. همدا رنګه په دې نامـۀ د یوۀ وران ویجاړ ځای کنډوالي او پاتې شونې دي چې وړاندې شمال لویدیځ لور ته تقریباً ۲ مایله لیرې دي.
* **قره بای**: ۴ – ۳۶، ۴۸ – ۶۶ (ن): دا د آق کپروک د لویدیځ - سویل لویدیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی. همدا شان په دې نامـۀ د کوچیانو یو کمپ هم سته چې وړاندې د آق کپروک د شمال ختیځ په ۲ مایله کې واقع دی.
* **قره بوین**: ۳۷ – ۳۶، ۵۰ – ۶۵ (ن): دا د شبرغان د سویل ختیځ په تقریباً ۷ مایلۍ کې یو کوچنی کلی دی. په دې نامـۀ بل کلی د آقچې د لویدیځ – سویل لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې په ۵۳ – ۳۶، ۱ – ۶۶ (ن) کې واقع دی.
* **قرچه بولاق**: ۳۲ – ۳۶، ۳ – ۶۸ (ن) دا د کوکه بولاق د شمال ختیځ په نیږدې ۴ مایلۍ کې یو کلی دی.
قره غله: ـ ۳۵، ـ ۶۴: لوړوالی: ۵۲۷۰ فیټه. دا د هغو غرونو پر سر یو کوټل دی چې د میمنې په ولسوالۍ کې ګاوجان دره له اقسای تګاو څخه جلا کوي. له پائین ګذر ۲ مایله کښته یوه لاره له ګاوجان درې څخه وتلې او مستقیماً په دوه وو مارشو کې میمنې ته تللې ده، لومړنی مارش ئې (توکه له[5]) ده چې ۲۲ مایله واټن لري او دوهم مارش ئې میمنه ده چې ۱۸ مایله واټن لري. دې کوټل ته لاره د ښویو، له ختو او چقړو ډکو خطرناکو ډډو له لارې تللې ده او کیدای سي یوازې په دوبي کې کله چې خاوره وچه او ټینګه سي نو د اوښانو د تګ لپاره عملي وي خو په نورو وختونو کې له پسونو او کچرو پرته دا لاره د هر ډول څاریو لپاره ډیره سخته وي. ګریسباخ چې د ۱۸۸۶ز کال د مارچ په میاشت کې له لویدیځ لورې له دې ځایه تیر سوی وایي: -
" قره غلي ته ختل سره له دې چې سخت دي خو یوازې ۳ یا ۲/۱ ۳ مایله ئې ډیر سخت دي، د سختوالي دلیل ئې د ختو او چقړو د شتون له کبله ده، چې د وړو ډبرو او د خاورو د ختو نیمه سَیاله ښویدنه بهیر جوړوي چې د قره ګالي د غرنۍ لړۍ د کوټل له ختیځ ګوټ څخه سرچینه اخلي. د دې لنډې لارې مزل زما د کچرو لپاره څلور ساعته وخت ونیوۀ او دغو کچرو یوازې هغه مهال دا مزل ووهلای سو چې له حیدري څخه خلک راغلل او د کچر له اوږو څخه د بار په وړلو کې مرسته وکړه. د قره غلي لړۍ ته له رسیدو وروسته پاتې د ختلو لاره په کافي اندازه آسانه ده ځکه د ختلو لاره د آهک د ډبرې د ټینګې تباشیري سطحې له سره تیریږي. د کوټل په بلافاصله لویدیځ کې او د غرنۍ لړۍ په سویلي سرځوړي یا شیب کې د جونګړو یا خرګاه ګانو یوه ټولګه (اته یا لس کورنۍ) سته چې د هرات د درې په تاجیکانو پورې اړه لري، دوی دلته پینځه کاله مخکې ځای پر ځای سوي دي. دوی څو پټې کرلي دي خو عمدتاً شپانـۀ دي. دوی خپلې د اوبو اړتیاوې په بشپړ ډول د اوبو له هغو ډنډونو پوره کوي چې دوی د ویلي کیدونکي واورې د اوبو لپاره کیندلي دي او څرګنده ده چې خوسا او بویناکې اوبـۀ دي.
" د قره غلي د کوټل شمال ته د کښته کیدلو لاره ډیره آسانه ده خو په ځینو ځایونو کې ښویه ده. د کښته کیدلو لاره عمدتاً د باندنۍ لړۍ په زوړ او ټینګ بادپښ د دې باندې ده چې د «بعد – پلوسیني عصر[6]» تر جغلو او خاورو لاندې واقع دي، نو له دې کبله تلل وربانديې ډیره آسانه دي. دا لاره لومړی د غرۀ په ډډو کې تاوییږي او د سرخاب تر حوضې پورې تر رسیدلو پورې تقریباً همواره ده او د سرخاب (؟) حوضې ته له رسیدلو وروسته دا لاره تقریباً په مسقیمې لیکې کښته درې ته تللې ده.
د قره غلي له کوټل کښته د لارې په بلافاصله ختیځ کې د (چې چې) کوچنی کلی دی چې وزبیکان په کې استوګن دي. دوه مایله نور کښته د وزبیکانو دوه نور کلي دي – ګلمیري؛ د دوی تر منځ او په حقیقت کې تر «توکله» پورې سیمه زښته ډیره کرل سوې ده او له ظواهرو ښکاري چې دا ټوله للمي ځمکه ده. (ګریسباخ)

[5] - Tukala
[6] - post –pliocene: د ځمک پیژندني په زماني مقیاس کې له پینځه نیم میلیونو تر دوه نیم میلیونو کلونو پورې عصر رانغاړي. - ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

قره قیتو: قره غیتو: ۳۷ ــ ۳۵، ۴۴ ــ ۶۵ (ن): دا د سرپل د علاقه داري فاوغان یو کوچنی کلی دی چې د قلعه شهر له ختیځه ۲/۱ ۱۳ مایله لیرې واقع دی. (امام شریف) *اوسنی نقشې دا نوم د قره غیتو په ډول لیکي.*
قره غـُـله: دا د مزار شریف په ولسوالی کې یو کلی دی چې د نهرِ اصفهان پر غاړه واقع او د وزبیکانو ۴۰ کورنی په کې میشتې دي. (اې. بي. سي.) *اوسنی نقشې دا نوم د قره غـُـچه په نوم په ۵۹ ــ ۳۶، ۴۰ ــ ۶۷ (ن) کې ښیي.*
افغان گزیتر *یې قره غچاله ښیي.*
* **قرغو**: ۱۶ ــ ۳۶، ۵۴ ــ ۶۵ (ن): دا د دریای سیاه پرغاړه د سرپل د شمال لویدیځ په تقریباً ۴ مایلی کې یو کلی دی.
په دې نامـهٔ بل کلی د آق سای په نامـهٔ یوهٔ تنگي کې دی چې د آق سای په تقریباً ۱۲ مایلی کې په ۱ ــ ۳۶، ۳۰ ــ ۶۵ (ن) کې موقعیت لري.
کري:۵۰ ــ ۳۵، ۱۷ ــ ۶۷ (ج): دا د میمنې یوه علاقه ده چې د کري قوم په کې اوسیږی.
قره جاه: ــ ۳۷ ، ــ ۶۶ : لوړوالی: (تقریباً) ۹۰۰ فیټه. دا د مزارشریف د ولسوالی د شورتپې په علاقه داری کې د استوگنې یو شمیر کوچني ځایونه ده. دغو ځایونه ډیره ځمکه نیولې ده او په خپل عام جوړښت کې د خواجه سالار ولسوالی ته ورته ده. د قره جاه له بازار څخه د سویل او سویل ختیځ چول پر لور تر بلخ او مزار شریف پورې بیلابیلې لارې تللې دي. بازار د چوشکه گذر د جالې د لارې په اوږدو کې واقع دی چې تقریباً ۴ مایله ورڅخه لیرې دی. (میتلند) (د لا نورو معلوماتو لپاره وگورئ: اکسوس)
نور بیا
قره جنگل: ۱ ــ ۳۶، ۷ ــ ۶۷ (ن): دا د «کوهٔ المُرتک» په سویل کې...

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولې برخې لوستی شئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ